مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن
ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشيد

۲۰۲۲/۱۲/۱۷

# ورځـلـيــک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

نولسمه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31$^{st}$ DECEMBER 1906 TO 7$^{TH}$ MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشيف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلي او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري ميک ماهن

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن

ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشيد

۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دوشنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری (۲۵)

هو، زه باوري شوم چې نن باید موږ خپل حرکت پیل کړو، زه له لارد لمینګتون سره یوځای د سهار په (۳۰-۹) له امیرسره د غیررسمي خدای پاماني په موخه مل شوم.دواړوخواوو دملګریتوب ډک تاوده احساسات یوبل ته څرګند کړل.امیرله لارد لمینګتون څخه د زړه له کومي مننه وکړه چې دده لپاره یې ښکلی کور له ټولو آسانتیاوو سره دده د سوکالۍ په خاطر برابرکړی و.ګورنرخدای پاماني وکړما غوښتل چې ګورنربیرته ترګورنرهاوس پورې بدرګه کړم چې امیرزه وروبللم اوراته ویې ویل چې زه باید ورسره کینم ځکه چې څه خبره یې راسره درلوده.هغه وویل دی پوهیږي چې هغه شیبه به دده لپاره ډیرګرانه وي چې زه او دی له یوه بله بېلیږو او دا به دده لپاره دردونکي وي چې زه اودی د وروستي ځل لپاره له یوه بله خدای پاماني کوو.

په بمبي کې د وروستي شاپینګ په موخه ما امیرته دا موقع پردی شرط برابره کړه چې د ټاکلي وخت په ترڅ کې باید هرڅه په بیړه ترسره کړي.ځکه مابايد امیر(اپولو نویندر) ته د وروستي رسمي خدای پاماني اوحرکت په موخه هلته رسولی وای اوموږ باید په پوره (۳۰-۲) بجو هلته وای.

له بوخت سهاره وروسته، زه دامیراستوګنځي ته ولاړم اوغوښتل مي چې له ځان سره یې بوزم خوهغه تراوسه هم له بازاره نه و راستون شوی ، لږ وروسته را ورسید ، له یو دوو ګولو ډوډۍ خوړلووروسته نیغ له ما سره روان شو. زما اودده چاړواکي ترموږ دمخه زموږ دهرکلي په خاطراپولوبویندرته تللي وو.موږبویندرته ترنژدي پورې په موټرکې لاړواوله هغه وروسته بیا په هغه رسمي تشریفاتي ګاډۍ کې چې هغه دیوشمیرسپرو د بدرګې په اولکه کې وه او زموږ انتظاریې کاوه چې موږباید تراپولوبویندرانګړ پورې په سپرلۍ بدرګه کړي،هلته چې موږد بمبي چاړواکي بیا له عالیجناب امیرسره دخدای پاماني پرموخه راغونډ شوي وو. موږ دیوې ګړۍ درې برخې نا وخته وو،ما هغوټولو خلکو ته ګواښ کړی و،خوهغوی بیاهم کومه ستونزه نه درلوده.

امیرله ټولوملګرو اودبمبی له چاړواکوسره تود خدای پاماني وکړ،له یو شمیرلکه سرلورنس جنکینزاومحترم فولتن اونورو سره یې زیاته مینه اومننه وښوده اوله دوی سره دبیلتانه پردغه خدای پاماني باندې یې دریغ څرګند کړ. موږ د بخارد لړې په هسکواو ټیټوکې اچ . ایم .اس . هیرمز ته له هرې خوا د بیړیود سلامیو په ځپوکې چې د جګړنوسرتیرود بیړیوله خوا را اوریدل پرلنګرځای ودریدو،ما لیده چې امیرد کښتیودسپرلیوپه ننداروکې څنګه ډوب شوی و.

امیرنن له ځان سره یواوږد تلیسکوب ترخپل څنګ لاندې نیولی و، هغه چې ده ویل دا په سمندري سپرلۍ کې یودود دی ځکه یې له همدې امله،داشیان په دې خاطر چې دهغو شته والي په سمندري شیبو کې اړین وي پرځان کړي وو،اودانوروبیا خپل معمول یونیفورم ، همپراوخولی ، میخ لرونکي څپلۍ او داسې نورخیزونه چې د بیړۍ د اړوندانو لپاره په زړه پورې نه ول له ځان سره درلودل.

ادمایرل سرایی. پو ، (Sir E. Poe)موږ ته دبیړۍ پردړه هرکلی ووایه او (اچ.ایم . اس هرمیس ) په بیړه زورواخیست.موږ په پوره چټکتیا سره بیړۍ ته له دې امله په (۱۷) مایلوکې زور ورکړپه دې چې یوخوځان له کب نیوونکو بیړیوڅخه پریوه خوا کړواوله بلې خو دخپل منزل پرلورې وردمخه شو.دلارې پرسرامیرپه خپل ټوپک پرهغوبوتلونوباندې ډزې کولې هغه چې د سمندر داوبو پرسر ول .هغه یولړجالب اودپاملرنې وړ ډزونه وکړل. او له موږ سره هم ټول هغه خالي بوتلونه چې هرمس (بیړۍ )ساتلي ووخلاص شول. دغه کارموږ ته یو ځل بیا دالاره چا ره برابره کړه چې د بې سیم تلګراف پرموخه اوچل باندې ځان پوه کړو،ما امیرله ځان سره واخیست اوله هغه ځایه مویو پیغام بمبي ته واستاوه چې زموږدبیړې (دوپیرین) لپاره یوڅه دخالي بوتلونوبندوبست وکړي. د ډزو ویشتلو چاره بیا د شپږ انچه ټوپکو په واسطه په یوواریزډول پیل شوه .څوراته معلومه شي چې څومره وشتني یا نښې د بیړۍ دحرکت دچټکتیا پرمحال چې څوزره یارده لرې واټن ترمنځ واوڅنګه پرنښو باندې لګیږي . په رښتیا هم چې په دغه ترڅ کې یو شمیرویشتنې ډیرې جالبې اودپام وړ وې.له هغه وروسته موږ بیاد بوتلوویشتلولوبه پیل کړه،دبیړۍ له هرلورې د یوځای اوپه یوه وارویشتو ویشتو بهیرپیل شوچې په زړه پورې و. موږ دهغوموخواونښوپرخوا ورغلوهغه چې (۲۰) فوټه اوږدې او (۱۲) لوړې وې،سورې په کې شوي وو،دهغو له را اخیستو وروسته چې موږڅومره زرکولای شولبیرته را غبرګ شوو.

امیرته دغو ډزوډیرخوند ورکړاودهغو تر ژوراغیزلاندې ښکاریده او په رښتیایی هم خوند ورکړی و.د بیرته را ستندوپه ترڅ کې یې یوځل بیا په ویشتو ویشتو باندې پیل وکړاوڅوځو سمندري نښې یې د باد په ترڅ کې وویشتې.
زموږ له را رسیدو سره سمه غرمنۍ راوړل شوه اوموږهغه هم له ځان سره ( آی . ایم . اس . دوپیرین) ته ولیږدوله،دلته په بیړۍ کې د امیرپه غوښتنه یوه لویه غونډه جوړه شوې وه، میرمن جنکینز اودهغې دوې خاصې ملګرې دبمبی دمیرمنوپه ډله کې وې.مخکې تردې چې موږباید دکراچۍ پرلورحرکت ته زرخوځیدلي وای دلته پرموږ ډیروخت تیرشو،د امیرټینګاروچې میرمنې یې له ځان سره کښته خپل کابین ته د چای څښلو په موخه بوتلې،اوهلته موږ ترځنډه پورې کیناستو. امیردخدای پاماني دغه خواشینونکې شیبه څومره چې یې کولای شوښا ته اچوله، ما پرخپله ډله دځنډ له امله ځکه ټینګار کاوه چې هندی سمندریان به له ستریا کراچۍ ته زموږ د ورتګ په اړه نورناوړه شیان په خپلو زړونو کې ورتیروي،امیرمیرمنو ته یولړډیرې ښکلي ډالۍ ورکړې او همدارنګه یې یوشمیرنورو ملګروته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې له بده مرغه نن ده ته دخدا پاماني په موخه نه وې رارسيدلی بيلا بيل ليکونه وليکل او په پای کې زموږ دخدای پاماني لړی زموږ له کتونکو سره دهغو په لونچ باندې ودريده،ده په دغه ځای خپل لوړاحساسات وښودل او ويی ويل دخدای پامان.
اوس (۹) بجې وې په داسې حال کې چې موږ بايد په (۵) بجوباندې خپل سفرپيل کړی وای. نورددی لپاره وخت نه وچې موږ بايد دهغه په اړه دځنډ فکرکړی وای،ځکه نوزربمبی نوره زموږ لپاره زموږ د سفرپه ترڅ کی په خپله يوه تيره شيبه وه.
موږ له شکه پرته په بمبی کې دخپلو دوو اوونيو تم کيدوپه ترڅ خورابسيا اوخوشاله شيبې درلودې،سره له دی چې ددغې مودې په اوږدوکې موږله ستونزوسره هم مخامخ شوو. خو په دغه برخه کې زه خوشاله يم چې ووايم هغه ټولې په خيرسره تيرې شوې،موږ په دغه برخه کې دلارد ليمينګتون اونوروانفرادی اوځانګړوکسانوله هغې ډلې د (سرلورنس ) اوميرمن ( جينکينز) دتودوهرکليواوميلمه پالنو مننودی اوستايوال يوچې دوی په دغه برخه لويه اود پاملرنې وړ ونډه درلوده اوداسې څه نه ووچې ددوی د مينه ناکې ميلمه پالنې له دايرې به دباندې پاتې وي.
اميرماښامنې ونه خوړه، ځکه هغه لکه څنګه چې ويی ويل دډيرې خواشينی احساس کاوه، دبيړنی ډوډوۍ له خوړلو وروسته ما بيا وغوښتل چې دده په ډيسک باندې له ده سره يوځای شم. موږ برج ته وختو،هلته له تم کيدو سره سم مودسهارترلومړنيوشيبو پورې خبرې سره وکړې.داميرلويه ليوالتيا ددغوخبروپه ترڅ کې دسمندرپه تل کې دتګلورې موندلو په برخه اوهغو سوالونو په اړه وه چې له ده سره را منځ ته شوي وو.
اچ.ايم.اس (های فلاير) زموږ بدرګه اوپرموږ پسې له شاڅارو وه. ما يوځل بيا د بی سيم تلګراف خبره اميرته ورياده کړه اوورته ومې ويل چې که غواړې کولای شې د بمبی ملګروته پيغامونه واستوې.دهغه هيله وه اوويی غوښتل،ځکه نوموږله (های فلاير) څخه غوښتنه وکړه چې هغوی ټولوته تلګراف ور وکړې. له دغو پيغامونو څخه يوه هم له (سر لورنس جنکينز) څخه يوه پوښتنه وه چې ځواب يی بايد کراچۍ ته راوليږي.
نژدی يوه بجه وه چې مااميرراکښته کړچې يوڅه خواړه بايدوخورې ، زه پردې وتوانيدم چې لږ ترلږه يوڅه پرې وخورم.
سه شنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری (۲۶)
ای . ايم . اس (دوپيرين):
له يوې ليوالتيا او انتظارسره زه دسمندرپه زړه کې له يوې آرامې ورځې سره غاړه غړۍ شوی وم ځکه نوزه د (ايريرو) په کاپې کولو اواستولو باندې بوخت شوم هغه چې په خپل وارد درد او زړه تنګۍ ډک کاراو دنده ده.خو اميرپه ښه اکرکې و،استواراوپه سهارنۍ انرژۍ سمبال اوځواکمن و،موږدهندې مرين دمشراوډايرکترکيپتان (هيوات) اود (دوپيرين ) دکيپتان (بلک) په ملېتيا ټوله بيړۍ له سره ترپايه وکتله اوهرې خواته په کی وګرزيدو،ټول ما شينونه البته له هره پلوه د پاملرنې وړوو. موږ داوږده ځنډ لپاره پريوه هيجاني فضا کې چې د توديدودود کشو نندار موکوله ودريدو.
دوپرين ډيره ښه اوجالبه بيړۍ ده چې پراخه او روښان ليده فضا لري ، داميراوږد اوپراخ استوګنځی چې ښکلې فرش شوې کوټې لري دده ډيرخوښ دی ،ماده او دده دچارومسوولو کسانو ته د بيړي په لومړۍ درجه برخه کې ځای ورکړې و،په داسې حال کې چې موږانګريزي مامورانواوچا رواکو بيا په دويمه درجه برخه کې ځانونه اچولي وو. دافغانانوپاتې برخه زموږله پوځيانو سره په يوه ځای کې ځای پرځای شوي وه، په دا سې حال کې چې زموږآتشواومرستندويوماموړينو ته دبيړۍ په هغه برخه کې چې دواده شويواستوګنځي اوپوځي روغتون هلته وداستوګنې آسانتياوې برابرې شوې وې.
ټول آرام ښکاريدل، يوازې يوڅوتنه داسې ول چې د سمندراغيزپرې شوی و.دباندې پياوړی باد لګيده خوهغه پياوړتيايې بيا په بيړۍ کې دننه نه احساسيده.
موږګرده په سهارکې سره پورته اوکښته شوو،ما يوازې هغه مهال دآرامۍ اوخوښۍ احساس وکړکله چې غرمه شوه،اميرله ځان سره زما پرغرمنۍ باندې ټينګارکاوه ځکه خوموږبيا دهغه له مهمو سردارانو سره يوځای په زړه پورې غرمنۍ او ناسته درلوده،زموږ لپاره هلته هرډول خوراکونه تياروو خوما هڅه کوله چې دهغوله خوړلو څخه ډډه وکړم،ځکه چې دافغان سردارانو خوړې ( له چاپلوسۍ ډکې ) خبرې زما لپاره تل ځورونکې وې،هلته دوامداره ستايواله (مدحيه ) غبرګه سندره روانه وه،داسې چې دغوړمالۍ کوچ يی هم پيړ پرې وهلي وو. اميرپه پرله پسې توګه دخپلو کسانو دداسې شان کړو څارنه کوله،خو ما ته ښکاريده چې دی يې زيات په فکرکې نه دی. زما فکرته رسيده چې د ددوی ددغو چټياتومخه به له مرګی پرته نورڅه کله هم ونه نيسي.
له غرمنۍ وروسته موږ بيا حرکت وکړ،ما اميرله ځان سره برج ته خيژاوه چې هغه وويل(های فلاير) نه شي کولای چې ځان موږ ته را نژدې اوڅرګندکړي،ځکه چې ده غوښتل هغه له نژدې وګورې، موږ دغه پيغام ور وستاوه اودغه کارترسره شو.های فلاير ډيره ښکلې ښکاريده او له موږ په تاو تيره شوه.اميرخپل پيغام کيپتان(هيکلې ) ته ور واستاوه،خودهغې کيپتان په خپل ځواب کې خپله خواشينی دخپل يوه ملګري دمړينې له امله موږ ته څرګنده کړه چې پرون له بمبی څخه زموږ تررا روانيدو شيبه مخکې اوبوته ورلويدلی و.چې په مننې سره واخيستل شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دسمندرهوا ډیره ښه وه، امیرپرخپله څوکۍ وغزید او ویې غوښتل چې همدلته په برج کې سترګه پټه کړي. (های فلایر) هم بیرته ځان په خپل ځای کې ځای پرځای کړاوپرموږ پسي څارو او را روانه شوه . ما هم شیبه غنیمت کړه اوومې پتیله چې څواميرراوبینیږي اوبیا یوې اوبلي خواته ګرزي راګرزي بایدخپل یوڅه کارونه سرته ورسوم.هغه (امیر) نن له تاریخه غږیده اوله تاریخه ډک شوی واودایی ښوده چې په دغه اړه دپاملرنې وړمعلومات لري،هغه د سکندرداوږده سفراودهغه دجنرال نیروکوس (Nearchos)دتجربوپه اړه اوږدې خبرې وکړې،دتیرو وختو د د زورزیاتواوظالمواکمنانو په اړه یې خرګندوني وکړې،دیوشمیردغو زورزیاتودهرډول کړو وړوغندنه یې وکړه او دایی هم ومنله چې ظالمان ترلیونیو سپیوهم بدتردی.

له غرمنی وروسته امیرزموږ د سګریت څکولودکوټې شاوخوا ته راغی اود پرلوبی په کولویې پیل وکړ.هلته ښځې نه وې چې دخبرو ډګرتود وساتي،موږهم خپله لوبه په جدي توګه ترسره کړه اوامیرهم په آرام خاطرخپل ځان اوفکرخپلې لوبې ته نیولی و.

هغه له ما سره یوځای دبیړی پرغولي د شپې ترناوخته، ترهغه وخته چې نور نو له خوبه مړکیده اوسترګې یې پټې پټې کیدې، ترڅویې چې ځان یوڅه سره را سم کړ.

هغه په رښتیا هم له سمندري سفرڅخه خوند واخیست اوماته یې وویل چې اوس نو یوه هیله اویوارمان چې دده لپاره مهم دی،هغه دادي چې یوه ورځ دی انګلستان ووینې اوهلته هم ولاړشي.

چهارشنبه د ۱۹۰۷ کال دفبروری) ۲۷(

امیرمخکې تردی چې زه خپله سهارنې پای ته ورسوم له ځان سره کړم، موږ بیا پورته برج ته وختو. چې هلته بیا ان ترهغه چې کراچۍ ته رسیدو پاتې شوو. مخکې تردې چې موږلنګرځای ته ورننوزو،دهغه پیغام سیګنال را ورسید هغه چې د امیردتیرېږ شپې د بی سیم تلګراف په ځواب کې د( سرلارنس جینکینز) له خوا لیګل شوی و.

کراچۍ ته رسیدنګ ښکلي و، ورځ ښکلې او روښانه وه، په لنګرځای کې ټولې بیړی په بیرغونو ښکلول شوې وې، دغه منظره یوه ښکلې انځوریزه منظره وه. له کلا څخه دهرکلي ډزي وشوې اوموږ پرمخکنې ستیج باندې را کښته شوو. دلته دتشریفاتو دپله د درناوي په حال کې ولاړه وه، دسند کمشنر( جنرال سمیت دورین) اوده دکراچۍ ټول ملکی اوپوځي چارواکي زموږدهرکلي په وياړ دریدلي ول.

امیر چې پرساحل پلې شو،له ټولوهغوی سره یې چې دده هرکلي ته راغلي وو لاس ورکړاو روغبړ یې ورسره وکړ،د تشریفاتو ګارد یې وکوت،هغه چې بیا بیرته ولاړاو موږ هم بیرته بیړی ته را وګرزیدو. اوس غرمه مهال و،ده کمشنر،جنرال اودهغه دوو چاروکو( کیپتان هیویت بلک ) او (هیکلي ) ته بلنه ورکړه چې له هغه سره دغرمې ډوډۍ وخوري موږله هغه سره کښته تالارته ولاړواوهلته موډیره ښه غرمنی وکړه، امیر پردغه مهال اوچته روحیه درلوده اوله خپل سمندري سفرڅخه یې خپله خوښي څرګندوله،ده پرموږ باندې زموږ دښناکي شیانوسپرایتو اوشرابو پرڅښلو باندې چې موږ ورسره عادت ووټینګارکاوه، دغه شیان ده زموږ له میس (خورنځای )څخه زموږ لپاره رالستولي وو.

له غرمنی وروسته موږ دبخار پریوه پراخه لړه کې ورننوتو، دلنګرځای په (منوره ) دروازه ورغلو،هلته چې د لنګرشویو او ګوتونو یوه ورانه ویجاړه د سب مرینوپرماین باندې درول شوې وه ، دهغې چاودنه په بریالی پایله باندې پای ته ورسیده .داوبو یوه پراخه برخه دچاودني له امله پرهوا شوه ، اوهغه لوی اسکلیت یې په وړو ذرو باندې واړاوه.

موږله هغه ځایه بیرته (دوپیرین ) ته راستانه شوو،امیرد بیړی اړوندانو ته خپل لاسلیک شوې عکسونه ورکړل،او له هغوی سره یې خدای پاماني وکړ.له هغوی یی مننه وکړه چې دده یې ښه خدمت او خاطرداري وکړه، ده ووی دی هیله من دی چې یوه ورځ به له دوی سره دانګلستان پرخوا هم ولاړشي اوهلته به دوه کاره ترسره کړي

یوداچې دی دیوه ( دوپیرین ) خاوند شي او خپل کورته په کې ولاړشي اودویم داچې زه باید له ده سره یوځای هلته ملګری یم.

زموږموټرونه تربیړیډباندې تیارولاړول اوامیرمود موټردسفر پریوه اوږده منزل ورروان کړ،موږ لومړی زولوژجیکي بڼ( ژوبڼ ) ته لاړو،امیرهلته یو زمری اوڅو بیزوګان را ونیول، له هغه وروسته د بازار پر لور وخوځیدو چیرې چې امیرغوښتل سپیچلي ( Speechley)دکان څخه کتنه وکړي ، دا یوکیمست یا درملتون دی چې امیر له هغه سره پخوا څه معامله کړې وه .ځکه نو ده دا هوډ کړی وچې کله کراچۍ ته ځي دغه دکان به هم ګوري اوخپله کړې وعده به ترسره کوي . دایوعادي اوترسمبیی امپوریم هم

کوچنی ځای و،امیرله هغه یو که دوه شیان هغه هم له شرم او ادبه واخیستل اوله هغه وروسته مود اورګاډي تم ځای ته روان کړ،هلته چې زموږ اورګاډی زموږ په انتظار ولاړ و. او دا وخت دشپې (۸) بجې وې.

له کمشنر ینګ هزبند (Mr. younhusband)دهغه له میرمنې او جنرال (سمیت دورین-General Smith )( Dorrien)سره له یوڅه خبرو ورسته موږ په عادي توګه په خپل سفرباندې لکه دیخوا په شان له ټاکلي وخته ناوخته پیل وکړ،امیرنن ما ته ووې چې موږ باید له (فینل) څخه هم ځان خبرکړو، ښاغلی فینل زموږ (چوپړ) و،څوک چې باید له هغو دوو موټروسره چې موږ امیرته وردالی کړي وو کابل ته ولاړ شی. فینل یوازنې ما هراوپه کار یوه سړی و چې په دغه برخه کې یې په زړه پوری کارکولای شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پنجشنبه د ۱۹۰۷ کال دفبرورى) ۲۸(**

دسهار په (۸) بجومونږ (روهړي ) ته ورسیدو،هلته چې زمونږ لپاره پراندوس باندې دلوی پله کتنه هم پلان کړل شوې وه،مونږ په پله باندې ولاړو او بیرته پرې راغبرګه شوو، پل دانجینرۍ مهارت لویه بریا وه، خو ظاهري ښیره یې یوبدرنګه جوړښت و.خو امیرووې چې پر ده باندې پراندوس اواټک باندي دداسې پله جوړیدولوی اثر کړی دی.

دبلوچستان کمیشنر ښاغلی (ټاکر) هم زمونږ د لیدنې په موخه روهړي ته راغلی و.امیرله هغه سره لنډې خبرې درلودې، د کمشنیرلویه لیوالتیاداوه چې دلته یې د مغلي ډول ودانیو په بیا جوړونو باندې یې لاس پورې کړي دی، امیرو ویل چې دده لپاره ترټولو داخبره ډیره مهمه او دپاملرنې وړوه چې په هند کې مونږ انګریزانو دپخوانیو تاریخي میراثونو او ودانیو ساتنې او بیا رغاونې ته ځا نګړې پاملرنه کړې وه.

مونږ ( روهړي) څخه په (۱۱) بجو حرکت وکړاو ټوله ورځ موخوشاله سفر درلود. له غرمې وروسته با دګینې سیلۍ پیل وکړ، ټوله ورځ روانه وه داسې چې زمونږ اورګاډی یې پوره وپوښاوه . امیرخپله ورځ په لوستنه اومطالعه تیره کړه .هغه څو ورځې مخکې ما ته وویل چې زه باید هڅه وکړم څو ده ته یوانجینیورپیداکړم ، ځکه دی ډیرلیوال دی چې د اورګاډي یوه لیکه له کابل څخه د سکرو ترسیمې (غوربند) اویوه څانګه یې ترخپلې نوې جوړې کړې کلا (جبل السراج) پورې هم وغزوي. ده په پرله پسې توګه داخبره ماته رایادوله،خو ما ورته ویل چې زه په دغه اړه دحکومت ځواب ته سترګې پرلاره یم، دی نن دلته له دې امله هم خوشاله وځکه اوریدلي یې وو چې کیدای شي دلته ددغه کار لپاره هم یو وړځوک ومومي . ما ده ته د ښاغلي (جانس) چې په دغه برخه کې یې وړتیا دیادونې وړوه ورپیژندلی و.زماهم یوازنۍ هیله داوه چې (جانس) باید افغانستان ته ولاړشي ځکه چې دده د اورګاډي دغه نظریه دافغانستان په تاریخ کې دعطف او پاملرنې وړټکی دی.

**جمعه د ۱۹۰۷ کال دمارچ) ۱(**

زه ولاړم چې امیر زر ترزره مخکې تر دې چې را پورته شي دخوښې په حال کې وګورم،هغه مې دخوښې په فضا کې وموند. مونږ دبیلابیلو موضوعاتو په اړه اوږدې خبرې درلودې. یوه له هغو څخه د سیستان دپیژندګلوۍ په باره اونورې دهیواد په اړه عمومي پوښتنې وې.دی وایي چې دی پوهیږي چې دده لپاره هغه ستراتیژیک آر دپاملرنې وړدی،هغه چې روسیي دلته خپل هدف ټاکلی او د دوی اړوند فارسی سیستان ځنګه کولای شي له هرات سره اړیکي ولري ، دغه حالت دواړه هرات اوکندهارله خطرسره مخامخ کوي،خوما خپل ځان په دغه اړه په یوه عمومي چوکاټ کې واچاوه.

مونږ په (۱۰) بجو لاهور ته ورسیدو، دتشریفاتو ګارد او دلاهور لوړ رتبه مامورینوزمونږ هرکلی وکړ، له دود سره سم مونږ هغه کمپ ته چې زمونږ لپاره ټاکل شوی و ولیږدول شوو.هلته د لارې پرسر دخلکو لوی بیروبارجوړشوی و چې له هرې خوا یې دامیرتودهرکلی کاوه.

دایو له خوښیو ډک، روښانه اوسوړ سهارو،لاهوراو دهغه په زړه کې چې مونږ په سپرلۍ روان وو، په ځانګړې ښکلا اوپرتم کې ښکاریده. زمونږ استوګنځي هم ښکلي اوپرتمین ځلیده، امیرهم دهغو خیمو په خاطرچې دده داستوګنځي لپاره غوره کړل شوې وې ډیرخوشاله و. زه تل، له لاهورڅخه زمونږ دکتنې په ترڅ کې په اندیښنه کې وم ، په دې چې زه ډاریدم چې دلویومرکزونو لکه کلکتې اوبمبي په انډول به دلته له یوې ستونزې اوکیدای شی له خواشینی سره مخا مخ شوو. ځکه نومونږدهمدغه لامل په خاطرځانګړې تابیا کوله اودده لپاره مودښه کمپ دبرابرولو هڅه کړې وه.

دا زما لپاره د آرامۍ یولوی احساس وکله چې امیر را ته وویل چې لاهورته را رسیدل دده لپاره ترډیرو نورو ځایونو لویه خوښي وه.دی هرچیرې دهرچا لویو او وړوله خوا دملګرتوب له تودو ولولو، خوښیو اوهرکلیوسره مخامخ شو. هغه لورینې اواحساسات چې هرچا ده ته وښودل دده په وینا عالی او فوق العاده ول. ما داورته په ګوته کړه چې دغه هرڅه اوهرکلي دا ټول په طبعي توګه زمونږ دخپلواکو خلکو له خوا پرته له دې چې زمونږ حکومت هغوی ته امروکړې ترسره شوي دي،ما دا هم ور زیاته کړه چې دازمونږ دحکومت دملګریتوب دهغو هڅو پایله ده چې مونږ یې دعاموپرګنوپه منځ کې ترسره کوو.

هرې خواته چې ولاړله خوښیو سره مل و، اوهرځای له انګریزانو سره یوځای و، هغوی چې هرځای له ده سره مخامخ شول په هرځای کې دده داخبره وه چې ویل یې :« هرڅه ښه دي ، یو بد څه هم نشته، یو بدڅه«
نن د جمعی ورځ وه ،دامیرلپاره په شاهي جومات کې د جمعې دلمانځه له امله ټول تیاري نیول شوي وو، پټیلي شوې وه چې دی اودده ټول کسان باید چې د (۲) بجو په شاوخوا کې هلته وي.

ما واوریدل چې نن په جومات کې په تیره بیا د ننه ډیرزیات بیروبار دی، له لمانځه وروسته امیرد شاهدرې لیدوته ولاړ.

د (۴) بجو په شاوخواکې ،ما اعلحضرت دپوځي سیالۍ پرلامل میان میرته بوت،هلته چې جنرال ( والټر کیچنیر) له ده سره وکتل اودخپل میلمه په توګه یې دده هرکلي وکړ،امیر یو زیات شمیر میرمنوته ور وپیژندل شوچې ډیر زریې له هغوی سره اړیکی دملګرتوب اوایل غیل توب شول، داسې چې بیا یی ماښام دچا ي دبلنې په نامه ددوی لوی شمیر پرځان را ټولې کړې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما په ماغزو کې داوه چې موږ ښکه کولای شو نوربیلا بیل ما ښامونه چې زموږ په وړاندې به په لاهورکې یوګواښ وي برابرکړو ، په تیره په داسي حال کې چې امیرپه مطلقه توګه نه غواړي خپله ما ښامني په خپل استوګنځي کې وکړي،ما په آرامه توګه دا جنرال کیچنیر ته ور بیژه کړه چې سبانی میلمستیا به له شکه پرته ډیره په زړه پورې وي، ده په مهربانۍ امیرته بلنه ورکړه چې ورشي اوخبره یې ومنل شوه.
زموږ ننۍ ما ښامنۍ له لفتننټ ګورنرسره وه،ما امیرهلته په خپل وخت ورساوه،دلاهورهرمشراونومیالی چې میلمستیا ته رابلل شوی وخوشاله ول،ما واوریدل چې امیر دهغې میرمنې د بی مسوولیته پوښتنې په ځواب کې چې ده ته نژدې ناسته وه وایې چې که له هغه ښځه داپوښتنه وشی چې باید د ښاغلی (دابس ) د واده ترمراسمو پورې دلته پاتې شي دی به په دغه اړه یوڅه وکړي. زه شکمن وم ځکه اوږده موده پخوا په رښتیاهم ده غوښتل چې دغو مراسمو ته پاتې شي.
د ماښامنۍ له پای ته رسیدو وروسته،موږ دراوینګ روم ته ولاړوو ، هلته چې موږ دښکلي سازاو سندرو پروګرام درلود. امیر پرته له دې چې ځان ته یې شرم وبولي دپیانوغږونونکی کیپتان (سن فورد ) ښنګ ته ورغی اوزموږ لپاره یې یوشمیر افغاني سندرې دپیانوپه څیوکې را واورولې. موږ نن شپه په غیرمعمول ډول ډیره لږه وروسته له (۱۲) پای ته ورسوله، ځکه چې د کلکتې دسترګو له ډاکترمیجر(ماینارد ) سره
وعده وه چې نن شپه دی وګوري، څه لومړنی مواد یې په سترګوکیږدي او دسبا بریالي آزموینې لپاره یې تیارکړي.
شنبه د ۱۹۰۷ کال دمارچ) ۲(
امیرنن سهارمخکې تردې چې دباندې ووزې له ښاغلي (میک رابرت ) سره لیدنه درلوده، داښاغلی دکانپورد وړیو دفابریکو مشرو، دهغې وعدې له مخې چې موږ له ده سره دکانپوردلیدو پرمهال کړې وه ، هغه هم پردې لامل چې دی امیرته دده دوروستي هوډ په اړه چې غواړي په افغانستان کې دوړیو کټ مټ فابریکه جوړه کړي مشوره ورکړي.
زه په دغه ناسته کې حاضرنه وم،خو میک رابرت را ته ووې چې امیر په دغه اړه پوره معلومات له ځان سره واخیستل اودغه ټول څه په یوڅو دقیقو کې ترسره شول، میک رابرت دا منلې وه چې ښاغلی (میلر) افغانستان ته ولیږي څو په افغانستان کې دغه فابریکه جوړه کړي،میک رابرت به ددغې فابریکې ټوله ماشینري چې بیه یې دوه لکه روپۍ کیږي به زر ترزره افغانستان ته رسوي. امیرچې کله په وړو مسایلو باندې خبرې کوي، ډیروخت نیسي خو چې کله په لویوشیانو باندې خبرې کوي،ما لیدلی هغه بیا په بیړنۍ او جدي توګه ترسره کوي.
هغه نن لکه ړوند داسي ښکاریده ځکه چې په سترګه یې پټۍ نښلولې وه، زه هم هیله من وم چې دی به دهغې دنه لرې کیدو له امله ځان آرام ونیسي،خو دا کارناشونی و، په شنوسترګیو سمبال په همدغه سهارکی دبازارپرلور روان شو،له غرمې وروسته په یوه بجه ما هغه دغرمنۍ لپاره (میکهیل ) ته ور وست ، میکهیل دپنجاب اکونتینت جنرال دی اومیرمن مکهیل یوه له هغو میرمنوښځه وه چې ده پرون له هغې سره کتلې وو. دوی له ده ښځه په درناوي هیله کړې وه چې نن غرمه به له دوی سره میلمه کیږي. موږ ښه غرمنۍ درلوده اوله هغې وروسته مو د پرویابیسکوټ لوبه وکړه. موږ ترهغو پورې له هغه ځایه ونه شکیدو ترڅو د پنجاب د تینس د سیالۍ وروستي پایله په لارنس ګارډن کي روانه وه پای ته ونه رسیده،ټول لاهورهلته راټول شوی و.
ګلوسیسترشیری (Gloucestershirs) غونډ والاوو په ډیر درناوي سره هیله وکړه چې امیرماښامني له دوی سره ولري ،خو ما غږ وربانډې وکړ چې دوی باید دا کارسبا ماښام ترسره کړي.
د تینس له لوبې وروسته موږ امیر(منت ګومیري ) تالار ته بوت ، هلته چې د لاهور شتمن او لوړ پوړي تل د چای ښبنلو اونڅا لیدو لپاره راځي، موږ هم هلته کیناستو، دنڅا کتنه مو د یوڅو شیبو لپاره وکړه او بیا د استوګنځي پرلورپه سپرلۍ شو.
موږ له ټاکلي وخته یوازې یوڅو دقیقې ناوخته د جنرال کیچنیرکورته راورسیدو اویوې خوشالونکې غونډې ته وروپیژندل شوو. زموږ د لږ ناوخت راتګ لامل داوچې امیر میک رابرت ته لاسلیک شوی قرارداد له دوولکو روپیو(نوټونو ) سره وسپاره .هغه کولای شول چې د وخت تیزي په پام کې ونیسی موږ له خوښیو ډکه ماښامنۍ ، معمول موزیک او پرلوبه یوپربل پسې درلودل امیر د زړه له کومي خوشاله و ځکه زه له دي امله چې دی له دغو خوښیوزر را وشکوم له ستونزو سره مخامخ وم.

پاتې لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ